**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## د چا امنیت او ملاتړ ډېر مهم دی؟

امنیتي ځواکونو د ۲۰۱۹م کال د ډسمبر میاشتې په ۳مه د تونس په المروج ښار کې د حزب التحریر یو غړی سلیم صمیدة د موټرو په یوه مارکېټ کې د حزب التحریر د ورځپاڼو له وېشلو وروسته اختطاف کړ. د بن علي له ظالمانه پالیسیو سره سم دوی د اسلام دعوتگر د غلو او داړه مارانو په څېر څاري.

هغه څه دي چې د تونس چارواکي یې د حزب التحریر د ورځپاڼې په اړه اندېښمن کړي؟! په داسې حال کې چې هره اونۍ دغه ورځپاڼې په قانوني توگه وېشل کېږي. ایا دا د سلیم صمیدة د همغې مقالې پر وړاندې غبرگون نه دی، چې د فرانسې د سفیرې له هغه سپکاوي څخه یې پرده پورته کړه چې د دغه هېواد خلکو ته کړی و؟ ایا په دغه ورځپاڼه کې د هغو مقالو له امله دغه کار ترسره شو، چې د راتلونکو حکومتونو هغه ژمنتیاوې یې په ډاگه کړې وې چې برېتانیا د اوسني حکومت لپاره په پام کې نیولې دي؟ یا ښایي د هغو مقالو غبرگون وي، چې له اشغال یا د یوه هېواد له گرو کولو وړاندې یې د سیاسي چاپېریال دروغ او خیانتونه په ډاگه کړي وو؟

دا لومړی ځل نه دی چې خلک اختطاف کېږي او مور پوهېږو چې دا ښایي وروستی ځل هم نه وي. د تونس چارواکي ډېری مهال د حزب التحریر د ځوانانو په نیولو او ځارلو سره خپل قوانین او عزت تر پښو لاندې کوي. د حزب التحریر ځوانان د اشغال شوي هېواد د ازادۍ او هغه دولت د تاسیس لپاره خلک رابولي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسیس کړی و.

### واکمنو او هغو کسانو ته چې ځانونه واکمنان بولي!

د چا ځارل او تېل وهل مهم دي؟ ایا تاسو او ستاسو امنیتي خدمتونو ته د هغې فرانسوۍ سفیرې شړل مهم نه دي، چې ټول ډیپلوماټیک معیارونه یې تر پښو لاندې کړل، له تاسو ټولو چارواکو څخه یې کرکه څرگنده کړه، د هېواد له خپلواکۍ څخه یې سرغړونه وکړه او پرته له دې چې حساب ورکړي په ازاد ډول تگ راتگ کوي؟ ایا ستاسو امنیتي چارواکي د اشغالگرې برېتانیا سفیره نه ویني، چې د هېواد په گوټ گوټ کې وگرځېده او د یوې واکمنې په څېر

يې پلټنه او چلند وکړ؛ حتا هغه امر کوي او تاسو يې امر منئ؟! ايا تاسو د جنايتکارې امريکا سفير نه وينئ، چې ماشومان او لويان وژني، له خلکو ضميرونه اخلي او حتا د ښاروالۍ په چارو کې مداخله کوي؟!

**امنيتي خدمتونو ته!**

ستاسو عزت او زړورتيا چېرې ده؟ په دغه هېواد کې دښمنان قوانين تر پښو لاندې کوي، تاسو يې وينئ او پر وړاندې يې هېڅ غبرگون نه ښيئ؛ ايا د کوم يوه نيول ډېر مهم دي؟ ايا هغه کسان چې د هېواد د خپلواکۍ لپاره کار کوي او هېواد د بهرنيانو او د هغوی د گوډاگيان له منگولو ژغوري يا هغه نيمه چارواکي چې د چوکيو د لاسته راوړلو لپاره يې خپل دين او هېواد پر کفارو پلورلي دي؟ ولې بايد سليم صميدة او د هغه ورونه چې له خپل دين، هېواد او امت څخه دفاع کوي ونيول شي، په داسې حال کې چې دښمنان او لاسپوڅي دې په امن کې وي؟! د چا امنيت او ملاتړ ډېر مهم دی؟ ايا په تاسو کې کوم يوه سړی نشته؟!

**په تونس کې زموږ باعزته مسلمانانو ته!**

له دغه اختطاف څخه ښکاري، چې د هېواد لوړ تصميم د لوېديځو هېوادونو په گټه نيول کېږي. د اشغال له منځه وړل د ژوند او شريعت اړتيا ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم پر تاسو غږ کوي، چې ستاسو عزت يوازې په اسلام کې دی او د هغه له دين څخه ملاتړ وکړئ.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾**

[المنافقون: ٨]

***ژباړه:*** *عزت یوازې د الله سبحانه و تعالی، د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم او مومنانو لپاره دی، خو منافقان نه پوهېږي.*

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ الله وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ فِي الْأَذَلِّينَ* كَتَبَ الله لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ الله قَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾**

[المجادله: ۲۰ـ۲۱]

***ژباړه:*** *له شک پرته هغه کسان ډېر ذلیل او خوار دي، چې د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم پر وړاندې جګړه کوي. الله سبحانه وتعالی لیکلي، چې زه او زما پیغمبران به هرو مرو برلاسي کېږو؛ په واقعیت کې الله سبحانه وتعالی برلاسی او زورور دی.*

**د حزب التحریر-ولایه تونس مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۷/۱۴۴۱**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د ربیع الاول ۷مه**

**۲۰۱۹ م کال، د نومبر ۴مه**